## لغوي څېړنه :

# غر او غرجستان

زموږ د ژبې یوه خورا مهمه او تاریخي کلمه (غر) دی ځکه چې پښتانه په غرنۍ محکه کښې لوي سوي، او دغره سره زوکړي او مړه سوي دي، نو په پښتو کښې هم (غر) خورا اهمیت موندلی ، او غرني افکار هم زموږ په ادب کښې خورا خوندوره برخه ده.

دلته زما دا مقصد نه دی چې په پښتو ادب کښې د غره اهمیت څرگند کړم ، ځکه چې دا بحث ژبنی او لغوي دی، اوزه غواړم چې د وطن په تاریخي ځایو کښې د غره د کلمې اثر در وښیم، او د پښتوژبې تاریخي اغېزې په تاریخي پخوانیو دورو کښې ښکاره کم.

غر په حقیقت کښې خورا زړه آریایي کلمه ده، چې د اوستا په هوم یشت کښې (گیري) راغلې (۱) او هم په خورده اوستا او د هغه د کتاب په فرهنگ کښې لیدله کیږي، (۲) په سنسکریت کښې هم دا کلمه موجوده وه، اوپه دغه ژبه Giri (گیریا گیري) د غره په معنا راغلی دی.

(۳) له دغو تاريخي او لغوي اسنادو څخه دا ښه زباديږي چي په پخوانو آريايي ژبو کښي ددې کلمې ريښه سته، او ښايي چي دا کلمه د آريانانوداصلي ژبې څخه پښتو، سنسکريټ او اوستا را اخيستې وي. که د افغانستان د تاريخي ځايو او د سړيو او قبايلو نومو ته وګورو دا به ښه راته ښکاره سي چي لهقديمه د غره کلمه مستعمله وه، او د ځينو ځايو په نومو کښي تر اوسه هم ليدله کيږي.

مثلاً : د وطن په تاريخ کښي موږ غلزي يا غلجي اورو، چي دا نوم ښکه (غرزی) دی، يعني د غره زوی چي وروسته غلزي سوی، او خلکو ډول ډول معناوي ځيني اخيستي دي.

دغسي ډيري نوري کلمې هم سته : غور، غرچه، غرج، خلج، چي ټول ددغسي ريښې څخه جوړسويدي، او د پوهانو په رايه دغه ټولي کلمې د آريايي قبايلو نومونه دي، يا ددوي د هستوګي ځايونه وه چي په منځنۍ آسيا کښي موجود وه. (۴)

توماسچک چي يو غربي محقق دی وايي : چي ګر gar د زړې باختري ژبي کلمه ده، او غر چي هم د آمو د لوړو لتو د غرنيو قبايلو نوم وُ (۵) نو ښکاره دی چي غرچه يا خلج، يا غرج يا غلجي ټوله د غرو د زامنومعنا لري، وګورئ : غرچه کټ مټ دغه اوسنی دپښتو غرچه يا غرځنی دی، چي اوس هم د (کوهي) معنا لري، په اسلامي دوره کښي جغرافيا ليکونکي او د عربو پوهان دغه علاقه چي اوس ئې ميمنه بولو، غرجستان او غرشيستان ليکي، لو ياقوت د البشاري په حوال تصريح کوي چي : غرج د غره او (کوه) په معنا دی. (۶)

په غوري دوره کښي دا لته (غرستان) هم بلل سوېده چي عربي ډول ئې هغه غرجستان دی، مثلاً : د منهاج السراج د طبقات ناصري قلمي نسخې چي ليدلي کيږي هلته ، غرستان، ليکل سويدی، چي

دغه اوسني کلمه (غر) عيناً پکښې ساتلي سوېده. ځکه چې منهاج السراج په خپله ددغه ځای اوسېدونکي وُ او ددغې لتی له خلکو څخه ئې پخپله دا کلمه اورېدلي وه، نو دا ښکارېږي چې (غرستان) اصلاً وطني او پښتو کلمه وه، چې په دغه ځاي کښې مستعمله وه (ستان) چې وروسته په پارسو کښي هم مستعمل سو، دا هم پخوانی آريايي ظرفي کلمه وه، چي له پخوا په پښتو ژبه کښي موجوده وه، ځکه چي اوس زمامقصد د (ستان) شرح نه ده، نو به دا بحث بلي ګني ته پرېږدم.

اوس مور له لورو تاريخي څېړونوڅخه دغي نتيجې ته رسيږو چي په پخوانو عصرو کښي د پښتو ژبي اغېزه خورا خپره ،اود وطن قبايل هم د نژاد او پښت تر نژدېوالي يؤ له بله سره نښتي وه.

ځکه نو اوس ددوي تاريخي نومونه ټوله يوه مرجع ته رسيږي، او تاريخي وحدت او قُرب ئې ثابتيږي.(۷)

# لمن ليكونه


۱. د اوستا فرهنګ ص ۲۷۲ _ داوستا لومړی جلد لسم يسنا.
۲. خورده اوستا ص ۴۹۷ د بمبئ طبع.
۳. هندی او انګليسي قاموس ص ۶۱۱ د ۱۸۰۷ ع طبع.
۴. د باړ تولد تاريخي جغرافيه ص ۸۸ .
۵. د پامير زبي د خاوري آريانانو تمدن د ګايګر الماني ص ۷۲.
۶. معجم البلدان ، ج۶، ص ۲۷۷.
۷. کابل مجله، ۱۳۲۲ کال، ۷مه ګنه، ۳۲ _۳۳ مخونه.